AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر ٢٠٢۶/٠۴/١۶

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(اتمه برخه)



(د پاکستان لومړی وزیر ذوالفقارعلي بوټو)

### پنجابی پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانې(۵)

### پوځي دیکتاتور، جنرال ضیاء او د ذوالفقارعلي بوټو اعدام

د ۱۹۷۸ز. کال د مارچ په ۱۸مه نېټه ذوالفقارعلي بوټو د محکمې لهخوا د نواب محمد احمد خان قصوري د وژلو په جرم، مجرم وپېژندل شو او د اعدام سزا ورته واورول شوه.[1]

د پاکستان د سترې محکمې قاضي القضات، **انورالحق** چې لومړي وزیر بوټو ته یې د اعدام سزا ورکړه، داسې څوک ؤ چې نوموړی د جنرال ضیاء تر ټولو نږدې کس ؤ، د دوی اړیکې تر دې ځایه نږدې وې چې کله به جنرال ضیاء له هېواده بهر سفر کاوه نو هغه به یې د پاکستان د سرپرست ولسمشر په توګه وټاکه.

د ۱۹۷۸ز. کال د ډسمبر ۱۸مه نېټه وه چې ذوالفقارعلي بوټو په راولپینډۍ کې په یوه له ګڼېګوڼې ډکه محکمه کې حاضر کړای شو. دا په داسې حال کې وو چې **بوټو ۹ میاشتې د اعدام په تمه تېرې کړې وې او ۲۵ ورځې د خښاک خوړو اوبه نه وې ورکړل شوې.**

بوټو چې د وینا هنر او ښه یاددښت (حافظه) څښتن ؤ، په محکمه کې یې څلور ورځې، پرته له دې چې لیکلي یاددښتونه وګوري، اوږدې خبرې وکړې.

[1]: https://books.google.com/books?id=wsnwF5v_RO0C&q=Air%20Marshal%20Asghar


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

(عبدالحفیظ پیرزاده) چې د بوټو پخوانی د قانون وزیر ؤ، له سترې محکمې یې وغوښتل چې ... د بوټو د اعدام حکم ته دې د محکمې د ټولو رسمي غړو پر وړاندې بیا کتنه وشي.
سترې محکمې د پیرزاده نور وړاندیزونه ونه منل خو دا یې ومنله چې استدلالونه به واوري. له ۱۲ ورځو اوږدېدو وروسته، **ستره محکمه دې پایلې ته ورسېده چې د پاکستان ولسمشر، جنرال ضیاء کولی شي د بوټو د اعدام حکم په عمري بند بدل کړي.**
**پیرزاده دا غوښتنه د پوځي حکومت مشر، جنرال ضیاء ته وړاندې کړه خو جنرال ضیاء غوښتنلیک پټ کړ، ویې ویل چې غوښتنلیک ورک شوی دی.**

د لومړي وزیر بوټو، د بند پر مهال د هغه زوی مرتضی بوټو او لور یې بېنظیر بوټو او د پیپیپي ګوند غړو نه سترې کیدونکې هڅې وکړې تر څو د بوټو د آزادۍ لپاره نړیوال ملاتړ ترلاسه کړي.
د نړۍ ډېرو مشرانو له جنرال ضیاء څخه هیله وکړه چې د بوټو ژوند وژغوري او اعدام یې نه کړي چې په هغو کې **د ملګرو ملتونو سازمان، د بشر حقونو سازمانونه، د امریکا متحده ایالات، انګلستان، فرانسه، سعودي عربستان، ایران، لیبیا او نور شامل وو**، دننه په پاکستان کې د بوټو ډېرو مخالفو سیاسي او مذهبي مشرانو هم د بوټو د نه اعدامولو غږ پورته کړ.
**خو تر ټول ډېر زیات کوښښ د لیبیا ولسمشر ډګروال معمرالقذافي وکړ**، هغه خپل لومړی وزیر، (عبدالسلام جلود) په بېړۍ سره پاکستان ته واستاوه ترڅو د بوټو د آزادۍ لپاره د پوځ مشر[ضیاء] سره خبرې وکړي.
عبدالسلام جلود په یوې خبرې غونډه کې وویل چې د لیبیا ولسمشر ډګروال قذافي، جنرال ضیاء ته وړاندیز کړی چې بوټو خوشې او لیبیا ته تبعید کړای شي او د لیبیا د ولسمشر الوتکه د اسلام آباد په نړیوال هوایي ډګر کې د بوټو په انتظار ولاړه ده.
له بده مرغه چې له یوې اوونۍ بېپایلې تمې او انتظار وروسته، **جنرال ضیاء د لیبیا د ولسمشر قذافي غوښتنه ونه منله او د اعدام حکم یې تایید کړ.[2] ضیاء وویل چې دا د پاکستان کورنی موضوع ده.**
له اعدام مخکې د بوټو وروستي وینا دا وه: **«ای الله! مرسته راسره وکړه... زه بېګناه یم.»[3]**

**د پاکستان لومړی وزیر ذوالفقارعلي بوټو د ۱۹۷۹ز. کال د اپریل په ۴مه نېټه، وروسته له سختو شکنجو چې په زندان کې یې د کانګو (استفراق) له امله د سینې د شدیدو دردونو لامل شوي وو، د راولپینډۍ په مرکزي زندان کې په دار کړای شو.[4]**
د خلکو لهخوا د یو ټاکل شوي، لومړي وزیر اعدام، د یو پوځي دیکتاتور له خوا، نړیوالو او د پاکستان د وکیلانو او حقوقپوهانو لهخوا په کلکه وغندل شو.

د بوټو له بندي کیدو او اعدام وروسته، جنرال ضیاء د خپلې واکمنۍ پر مهال ۱۹۷۷ تر۱۹۸۸ز. کال پورې په ډېرې ناځوانۍ سره د بوټو د کورنۍ، ښځینه غړي په بېلابېلو وختونو کې ۱۱ کاله په کورنۍ نظربندۍ، زنداني کېدل او سیاسي محدودیتونو پرې لګولي وو.
او «د بوټو زامن، شهنواز بوټو او میرمرتضی بوټو په تبعید کې اوسېدل چې په غیاب کې په څو ډولو جنايي تورونو تورن شول.»[5]

---

2 .https://web.archive.org/web/20111021164217/http:/jang.com.pk/jang/oct2011-daily/21-10-2011/main.htm
3: https://ghostarchive.org/varchive/youtube/20211030/XMvL1W_Jgz8
4 : https://www.nytimes.com/1979/04/04/archives/bhutto-hanged-in-pakistan-jail-for-murder-plot-body-is-reportedly.html
5 : تلک خرس: لیکوالان: ډګروال محمد یوسف او مارک ادکین. فارسي ژباړه: ډاکټر نثار احمد صمد. ۱۹مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنېزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د جنرال ضیاء لهخوا د پاکستان لومړي وزیر ذوالفقارعلي بوټو وژل دوه مهم بنسټيز عوامل درلودل، لومړی دا چې جنرال ضیاء خپله چاره په اوبو کې لیدلې وه، که چیرې بوټو ژوندی پاتې شوی وای نو د ضیاء د واک پر وړاندې لوی ګواښ بلل کیده، بوټو په خلکو او پوځ کې ډېر خواخوږي لرل، د ده په شتون کې شوني وه چې په راتلونکې کې پوځ وېشل شوی وای او د جنرال ضیاء پوځي حکومت دیکتاتوري له منځه تللې وای او په ټاکنو کې (لکه څرنګه چې د بوټو لور بېنظیر بوټو په ټاکنو کې بری تر لاسه کړ) همداسې به ذوالفقارعلي بوټو ټاکنې ګټلې وای.

دويم دا چې د بوټو په مرګ کې د اسراییلي صهیونستانو لاس لرل هم شوني دي، داسې چې لومړي وزیر بوټو د ۱۹۷۳ز. کال، د عرب – اسراییل، د (یوم کیپور) د جګړې پر مهال **«د پاکستان د هوايي او سمندري ځواکونو غوره جګړهییز پیلوټان سوریې او مصر ته لیږلي وو چې هلته یې د اسراییلو خلاف جګړهییز عملیات ترسره کړل.**[6] چې له دې کبله بوټو ته د اسراییلي صهیونستانو لهخوا، د یو دښمن په سترګه کتل کیدل.
خو د بوټو برعکس، جنرال ضیاء د اسراییلو لپاره یو ښه دوست او همکار بلل کیده ځکه چې د اردن په هېواد کې د **(تور سپټمبر)** عملیات چې د جنرال ضیاء په لارښوونه تر سره شوي وو او ښه ډېر فلسطینیان یې وژلي وو، له دغو عملیاتو وروسته، **جنرال ضیاء د اسراییلي صهیونستي رژیم لپاره یو په زړه پورې کس وګرځید.**
په دې بنسټ، د اسراییلي صهیونستي استخباراتو (موساد) تروریستي کړنو او امکاناتو ته په کتو، ډېره شوني ده چې د بوټو په مرګ کې جنرال ضیاء د اسراییلو لهخوا هڅول شوی وي، دا نه ده څرګنده چې جنرال ضیاء له موساد څخه د بوټو د وژلو په بدل کې څه ترلاسه کړي دي؟
**لنډه دا چې بوټو د جنرال ضیاء لهخوا وژل شوی دی،** د نواب قصوري د وژلو تور هسې یوه پلمه وه چې ضیاء د هغه د وژلو لپاره وسیله وګرځوله.

د بوټو کورنۍ او د ده د ګوند پيپيپي ځینو غړو د خپل مشر پر وژلو ډېر سخت خوشني وو، دوی په دې هڅه کې وو چې په هر ډول کیږي د خپل مشر غچ واخلي (چې وروسته به پرې وغږیږو).

سربېره پر دې چې د بوټو د حکومت ډېر غړي له دندو ګوښه کړای شول خو ولسمشر (فضل الهي چودري) وهڅول شو د تشریفاتي ولسمشر په توګه کار ته دوام ورکړي. کله چې د هغه د ولسمشرۍ موده پای ته ورسېده، (سره له دې چې ضیاء غوښتنه ترې وکړه، خپله موده وغځوي) خو هغه استعفاء ورکړه **او د ۱۹۷۸ز. کال د سپټمبر په ۱۶مه نیټه، جنرال ضیاء خپل ځان د پاکستان د ولسمشر په توګه وټاکه.**

جنرال ضیاء د خپل واک د ساتلو لپاره د اسلام له سپیڅلي دین څخه د یوې وسیلې په توګه کار واخیست او د شریعت ځینې احکام یې د خپل اعتبار د لوړولو په موخه پلي کړل، هغه داسې نیوکې کولې چې ده په خپله هماغه کړنې ترسره کولې نوموړي وویل چې په تېر کې «ډېرو واکمنانو د اسلام په نوم چې هر څه یې غوښتل، ترسره کول.»

جنرال ضیاء له اسراییلو زده کړي وو چې څرنګه اسراییلو د یهودیت په نوم اسراییلي رژیم له پاشلو ساتلی دی، ضیاء د اسلام سپیڅلي دین ته، (لکه څرنګه چې ظاهري څرګندونې یې کولې) ژمن نه ؤ، هغه دین د پاکستان د ساتلو لپاره وسیله باله، نوموړي څو ځلې ویلي وو:«پاکستان چې د اسلام په نوم جوړ شوی، یوازې هغه وخت به ژوندی پاتې شي چې اسلام ته ژمن پاتې شي. له همدې امله زه د اسلامي نظام پلي کول د دې هېواد لپاره یو اساسي شرط ګڼم.»[7]

---

[6] :https://tribune.com.pk/story/855837/50-years-on-memories-of-the-1973-arab-israeli-conflict

[7] :http://www.pakistani.org/pakistan/constitution/amendments/2amendment.html


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ډېرى څېړونکي او منتقدين باور لري چې د جنرال ضياء ځيني اسلامي څرګندوني او کړني د خپل ديکتاتوري رژيم د دوام لپاره ترسره کولې چې له دغو منتقدينو څخه يو هم د پاکستان د پخواني لومړي وزير مېرمن نصرت بوټو ده چې وايي:**«د ۱۹۷۱ز. کال د [بنګال] د جګړې وحشتونه... لا هم د پاکستان د خلکو په زړونو او ذهنونو کې ژوندي دي... نو ځکه جنرال ضياء په لېونۍ توګه له اسلام څخه کار واخيست... ترڅو خپل رژيم له دې لارې وساتي.»**

جنرال ضياء په پاکستان کې د ديني مدرسو شمېر زيات کړ چې د دغو مدرسو شمېر له ۸۹۳ څخه ۲۸۰۱ ته لوړ شو چې په پاکستان کې ديني مدرسې، د لومړي ځل لپاره د دولت ملاتړ، د جنرال ضياء د واکمنۍ پر مهال ترلاسه کړ.[8]

دا مدرسې د هماغه سوونو کلونو پخواني درسي نصاب په ساتلو سره زياتې شوې، د دې پر ځای چې د وخت له غوښتنو سره سم، په دين کې هر اړخيزې موندنې او اسانتياوې رامنځ ته کړي، په همغه زاړه دود زدهکړې رواني وې، دغه مدرسې جنرال ضياء د خدای د رضاء لپاره نه وې جوړې کړې، په حقيقت کې هغه له دغو مدرسو څخه له افغانستان او هندوستان سره د جګړو لپاره روزنيز پوځي ښوونځي جوړ کړي وو. نه يوازې ديني مدرسې بلکې په پاکستان کې د پاکستانيانو او افغان مهاجرينو لپاره په تعليمي نصاب کې تاريخي جعلکارۍ هم رامنځ ته شوې، په دې هکله د پاکستان اوسنی دفاع وزير خواجه اصف د ۱۴۰۴ل. ل کال د سلواغې (دلوې) مياشتې په ۲۰مه نېټه د پاکستان پارلمان يوې غونډې ته د خپلو خبرو په اوږدو کې وويل چې **«پاکستان د افغانستان د جګړو لپاره خپل تعليمي نصاب هم بدل کړ چې د دغو بدلونونو زيان لا تر اوسه هم نه دی جبران شوی او د دغو سياستونو د پرمخ وړلو لپاره تاريخ هم بيا وليکل شو، تر څو د جګړې له رسمي روايتونو سره سمون ولري.»**

له بده مرغه د بوټو له اعدام څو مياشتې وروسته، د ۱۹۷۹ز. کال د ډسمبر په ۲۵مه نېټه شوروي اتحاد پر افغانستان يرغل وکړ، دغه يرغل د جنرال ضياء له سرغړنو او ناقانونه حکومت له پايښت سره مرسته وکړه، غربيان د دې پر ځای چې پر ضياء د هغه د بدماشيو له امله فشار راوړي، له هغه يې ملاتړ وکړ، جنرال ضياء د افغانستان د جګړې پر سر، له امريکايانو، غربيانو او عربانو څخه په ميلياردونو ډالر ترلاسه کړل، **د همدغو مرستو په برکت يې اټومي بم جوړ او په افغانستان کې يې جګړه توده وساتله.**

د بوټو له اعدام وروسته، په نړيواله کچه او د پاکستان په دننه کې د ټاکنو د ترسره کېدو غوښتنې زياتې شوې خو جنرال ضياء له هغې وړاندې چې واک منتخبو استازو ته وسپاري، هڅه يې وکړه خپل موقف د دولت د مشر په توګه ټينګ کړي.
جنرال ضياء د خپل واک د ټينګښت په موخه د پخواني انګرېزي شيطاني چلول څخه کټ پورته کړه چې له دې مخکې په پښتونخوا کې د فخر افغان، پاچا خان (د خدايي خدمتګار) غورځنګ پر وړاندې د انګرېزانو او مسلمليګيانو لخوا هم ترسره شوی ؤ، دا شيطاني چل داسې ؤ چې مسلم ليګيانو د پاچا خان غورځنګ د هندوانو ملګری باله او خپل ځانونه يې مسلمانان بلل، د صوبې ټاکنو پر مهال يې په يو لاس کې قرآن کريم او په بل لاس کې د هندوانو کوم يو ديني کتاب نيولی ؤ او خلکو ته يې ويل چې **(تاسو قرآن ته رايه ورکوئ که د هندوانو کتاب ته؟)** طبيعي ده چې پښتانه ټول مسلمانان وو نو د قرآن کريم په نوم يې مسلمليګ ته رايي ورکړې.

دې ته ورته، بل شيطاني انګرېزي چل هغه مهال ترسره شو چې کله ملا عبدالله، مشهور په (ګوډ ملا) او د هغه زوم، ملا عبدالرشيد چې د پاچا امان الله خان پر وړاندې يې خلک لمسول نو د دغو ملايانو په يو لاس کې قرآن کريم او په بل لاس کې د امان الله خان د نظامنامې کوم يو کتاب نيولی ؤ، خلکو ته يې ويل: **(قرآن منئ که د امان الله کفري نظامنامې؟)**[9]
دا چې د دغو ملايانو په خوله د پاچا امان الله خان، نظامنامې کفري بلل شوې وې، خلکو د قرآن کريم پلوي کوله، له دې

---

[8] : https://web.archive.org/web/20130926073458/http:/www.pppusa.org/zabhutto.htm
[9]: کانديد اکاډميسن محمد اعظم سيستاني: شاه امان الله، اصلاحات و ضديت روحانيت متنفذ با تحولات اجتماعی. ۳۵۰مخ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

پرته، په هر صورت مسلمانان د قرآن حکیم پلوي کوي چې قرآن عظیم د مسلمانانو لپاره پر ټولو کتابونو لومړیتوب لري نو په دې توګه یې د لویې پکتیا ځیني قومونه د امان الله خان پر وړاندې پورته کړل.

جنرال ضیاء داسي انګرېزی چل وکړ چې په ټولپوښتنه (ریفرنډم) کې یې دوه داسې پوښتني کړي وې چې هېڅ مسلمان پاکستاني انکار نه شو ترې کولی، پوښتني دا دي:
**«کیا آپ پاکستان میں اسلامی نظام کے نفاذ کے حق میں ہیں اور صدر جنرل محمد ضیاء الحق کے اس اقدام کی تائید کرتے ہیں؟»**
**ژباړه: آیا تاسو په پاکستان کې د اسلامي نظام د نافذولو ملاتړ کوئ او د ولسمشر جنرال محمد ضیاءالحق د دې اقدام تایید کوئ؟**
په پاکستان کې د جنرال ضیاء لهخوا د اسلامي نظام د راوستلو پوښتنه په داسې ترتیب پوښتل شوي وه چې دواړه جملې سره تړل شوي وې چې د (نه) رایي په ورکولو سره، له اسلام سره ښکاره مخالفت ؤ.
د ۱۹۸۴ز. کال د ډسمبر په ۱۹مه نېټه، ټولپوښتنه ترسره شوه، د رسمي شمېرو له مخې، ۹۷.۸ سلنه رایي د ضیاء په ګټه ورکړل شوي وې چې په حقیقت کې یوازې ۲۰ سلنه رایهورکوونکو په دې ټولپوښتنه کې برخه اخیستي وه.

له ټولپوښتني وروسته، ضیاء د نړیوال فشار پر وړاندې تسلیم شو او د ټاکنو کمیسیون ته یې اجازه ورکړه چې د ۱۹۸۵ز. کال د فبرورۍ په میاشت کې، پرته له سیاسي ګوندونو، عمومي ملي ټاکني ترسره کړي.[10]

جنرال ضیاء په ۱۹۸۵ز. کال کې پوځي حکومت (مارشالا) لرې کړه او یو ګوندیزې ټاکنې یې وکړې، (محمد خان جونیجو) یې لومړی وزیر وټاکه خو ډېر واکونه د ولسمشر په توګه له ضیاء سره پاتې شول لکه: د لومړي وزیر لېرې کول، د ملي شورا منحلول، د ایالتي والیانو او د وسلهوالو ځواکونو د قوماندانانو ټاکل. د واک له سپارلو او د مارشالا د پای ته رسولو څخه مخکې، ضیاء نوی پارلمان دې ته اړ کړ چې د ده د تېرو ۸ کلونو ټولې روا او ناروا کړني، د ۱۹۷۷ز. کال د کودتا په ګډون تایید کړي.
جنرال ضیاء هغه مهال د لومړي وزیر جونیجو حکومت ړنګ کړ چې کله جونیجو په ۱۹۸۸ز. کال کې، د ضیاء د هیلو پر خلاف، د افغانستان د جګړې په اړه جنیوا تړون لاسلیک کړ. **ضیاء د ۱۹۸۸ز. کال په نومبر کې د ټاکنو نېټه وټاکله خو دغې هیلې ته ونه رسېد.**[11]

---

[10] :
https://web.archive.org/web/20131028084314/http:/www.timesofbombay.com/tag/zulfikar-ali-bhutto/
[11] :https://www.bbc.com/pashto/columns-40959111


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ



(د امریکا ولسمشر ریګن او ... ټر منځ د جنرال ضیاء له سبکلوي او غوړه مالۍ یک انځور)

نېټه:۱۴۰۵/۱/۲۶ل. ل

**نور بیا**

د ښاغلی محمد انور اخړ نوري لیکني په دی لینک کې ولولی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ